**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا او

د ښوونکو د روزنې معینیت


د تعلیمي نصاب د پراختیا او

درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# درسامی هنر

## لومړی ټولګی





**د چاپ کال: ۱۳۹۶ هــ ش**

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، اخیستنه او خرڅونه یې په کلکه منع ده. له سر غړوونکو سره قانوني چلن کېږي.

moe.curriculum@gmail.com



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی      دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې      هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی      د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو      د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي      پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي      هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي      که لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به      لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر      وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا د ښوونکو د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف
لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## لومړی ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ . ش.

**ليکوالان**:

- د سرمؤلف مرستيال محمد غالب الله يار د هنرونو د ديپارتمنت آمر.

-محمدظاهر طاهري د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.

- نفيسه پوپلزی د هنرونو د ديپارتمنت غړې

**د تدقيق کميټه**:

-سرمؤلف مير نقيب الله د تعليمی نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست علمي غړی.

-پوهندوی دکتور فضل الهادی وزين.

- سرمؤلف علی الله جليل د درسي کتابونو د تاليف رئيس.

- د سرمؤلف مرستياله فروزان خاموش د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست علمي غړې.

- د سرمؤلف مرستياله مريم منزه کوهستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست علمي غړې.

**مسلکي ايډيټ**:

-سيد انور مېچنخېل د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.

**د ژبې ايډيټ او ژباړه**:

- د سر مؤلف مرستيال محمد قدوس زکوخيل د پښتو د ډيپارتمنت علمي غړی.

**ديني، سياسي او فرهنگي کميټه**

- حبيب الله راحل د تعليمی نصاب د پراختيا په لوی رياست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

-مولوي عبدالوکيل د ديني علومو د ډيپارتمنت علمي غړی.

**د څارنې کميټه**

-دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې معين

- دکتور شېر علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول

- دکتور محمد يوسف نيازي د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رياست سرپرست

**کمپوز او ډيزاين**: رحمت الله غفاري

**انځورګر**: نادرعلي يوسفي

**د چاپ د سمون چارې**: محمدکبير حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو رئيس.

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

د لوی خدایﷻ ډیر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم کې پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر ګاڼه یې سمبال کړ. ډیر درود دې وي د اسلام پر ګران پیغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی دی او د رحمت، لارښوونې او روښنايي پیغام راوړونکی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهیر کې یو مهم رکن بلل کیږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کیږي. درسي کتابونه باید د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل دیني او اخلاقي زده کړې د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولیږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړیږي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنګ دودول، د هیواد پالنې او مینې او محبت د حس پیاوړی کول، ښښنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښایي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوي موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې یو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې یې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هیله لرم د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هیواد د زده کړې د نظام بری د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړیوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ویش کې یې زیار ایستلی او مرسته یې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدایﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پایه مهربانۍ له موږ سره د پوهنې د سپیڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سمیع قریب مجیب.

**د پوهنې وزیر**

**دوکتور اسدالله حنیف بلخي**

# لړلیک



| سرلیك | مخ |
|---|---|
| خطونه | ۱ |
| د رنګونو پیژندل | ۳ |
| د انځورولو وسیلې | ۷ |
| آزادې کرښې | ۹ |
| منظمې کرښې | ۱۱ |
| کور | ۱۳ |
| رنګونه | ۱۵ |
| ګل | ۱۷ |
| د ګل رنګونه | ۱۹ |
| له کاغذ څخه د ګل جوړول | ۲۱ |
| اصلي رنګونه | ۲۳ |
| سابه | ۲۵ |
| مېوې | ۲۷ |
| د مېوو رنګول | ۲۹ |
| لاسي کار | ۳۱ |
| د پاڼو کاپي کول | ۳۳ |
| پاڼه | ۳۵ |
| د پاڼو رنګه کول | ۳۷ |
| د لاسي کار جوړول | ۳۹ |
| پیشو | ٤۱ |
| کبان | ٤۳ |
| د کب رنګول | ٤٥ |
| هیلۍ | ٤۷ |
| د هیلۍ رنګول | ٤۹ |
| له کاغذ څخه د کوترې لاسي کار | ٥۱ |
| د ګوتو په واسطه ټاپه کول | ٥۳ |
| بېړۍ | ٥٥ |
| د پاکټ جوړول | ٥۷ |
| دویمه برخه: د ښوونکي لارښود | ٥۹-٦٤ |


# لومړۍ برخه


لومړی لوست.


## د خطونو ډولونه

**موخه: زده کوونکي به د قلم د نیولو او د خطونو له ډولونو سره بلدشي.**












# د رنګونو پېژندل

**موخه: زده کوونکي به له رنګونو سره بلدتيا پيدا کړي.**






# د ماشومانو د انځورونو نمونې


























# د انځورولو وسیلې

**موخه:** د انځورګرۍ له وسایلو سره د زده کوونکو بلدتیا او د هغوی پېژندنه.



## پوښتنې


۱- د رسامۍ د وسایلو نوم‌ونه ویلی شئ؟

۲- د لاندې شیانو په رسمولو کې له کومو وسایلو څخه کار اخلئ؟



## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې په خپلو ډلو کې د رسامۍ د وسایلو نومونه واخلي



## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې د خپلې کورنۍ له غړو سره د انځورګرۍ د وسایلو او د هغوی د استعمال په اړه خبرې وکړي.

# آزادې کرښې


**موخه: د آزادو کرښو زده کړه او تمرین.**



## پوښتنې


۱. په دې مخ کې څه شی وینئ؟

۲. دا کرښې يوه له بلې سره څه توپير لري؟



## فعالیتونه

زده کوونکي دې په خپلو ډلو کې د لاس د حرکت په واسطه او د نقاشۍ په بېلا بېلو وسیلو آزادې کرښې تمرین کړي.



## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې آزادې کرښې په خپلو کتابچو کې تمرین کړي.


# منظمې کرښې

**موخه:** د منظمو کرښو له رسمولو سره د زده‌کوونکو بلدېدل؟




**پوښتنه**

۱. کله مو دا ډول کرښې لیدلې وې؟



## فعالیتونه

زده کوونکي دې په انفرادي ډول لاندې کرښې رسم کړي.



## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپل چاپېریال کې منظمې کرښې وګوري او هغه دې تمرین کړي.

# ساده شکلونه

**موخه: د ساده شکلونو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.**




## پوښتنې

**١. لاندې شکل له کوم ډول کرښو څخه جوړ شوی دی؟**

**٢. ایا ویلی شئ چې په لاندې انځور کې څو ډوله کرښې لیدل کیږي؟**




لومړی شکل(١)



دویم شکل(٢)

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې په ډلو کې د درسي کتاب له مخې ساده شکلونه چې په آزادو کرښو رسم شوي دي، رسم کړي.



## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې د خپلې خوښې یو شکل رسم کړي.

# رنګونه

موخه: له رنګونو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.




## پوښتنې


۱. د څو رنګونو نومونه اخېستلی شئ؟

۲. کوم رنګ مو ډېر خوښېږي؟

۳. ستاسې کالي کوم ډول رنګ لري؟




شين




سور



نارنجي




سپين



زيړ




تور



آسماني شين

## فعالیتونه

زده کوونکي دې په خپلو ډلو کې د بېلابېلو رنګونو نمونه واخلي.




## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د کورنۍ له غړو سره په بېلا بېلو رنګونو خبرې وکړي، ترڅو د دوی معلومات زيات شي.

# گل


**موخه: په مرحله یې ډول د گل له انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.**



## پوښتنې

۱. تاسې په بېلابېلو رنګونو ګلان لیدلې دي؟.


۲- تراوسه مو ګل انځور کړی دی؟



(۲)

## فعالیتونه

**زده‌کوونکي دې ګل په ساده کرښو انځور او تکمیل کړي.**



(۳)

## کورنۍ دنده

**زده‌کوونکي دې یو ګل غوره او هغه دې انځور کړي.**

# د ګل رنګول


موخه: د ګل دانځورولو او د هغه له رنګولو سره د زده‌کوونکو بلدتیا.



## پوښتنې


١. ګلان کوم رنګونه لري؟

٢. تاسې د ګل په رنګولو کې له کوم رنګ څخه ګټه اخلئ؟




## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې  د دریم شکل په شان یو ګل رسم او رنګه کړي، بیا دې هغه بیاتي کړي او پس له هغې دې  یې د خپلې کتابچې په پوښ ونښلوي.



(۲)



(۱)

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې له خپل چاپېریال څخه یو ګل رسم او رنګه کړي.


# د پاڼې انځور

موخه: پړاو په پړاو د ونې، یا پاڼې له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې

۱. کله مو د ونې پاڼه انځور کړې ده؟


۲. د ونې د پاڼې رسمول له کوم پړاو څخه پیلوي؟



(۱)

## فعالیتونه

زده کوونکي دې د ونې پاڼه د ټولګي د تختې او یا د کومې ونې له پاڼې څخه په خپلو کتابچو کې رسم کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه یوه پاڼه انځور کړي.

# د پاڼې رنګول


**موخه: د ونې د پاڼې د انځورولو او د هغه له رنګولو سره د زده‌کوونکو بلدتیا.**




**پوښتنې**

**۱- څو ډوله پاڼې مولیدلې دي؟**

**۲-رسم شوې پاڼې یو له بله څه توپیر لري؟**





(۱)



## فعالیتونه

**زده‌کوونکي دې لاندې شکلونه رسم او په خپله خوښه دې رنګه کړي.**





## کورنۍ دنده

**یوه پاڼه په خپلو کتابچو کې رسم او بیایې رنګه کړئ.**

# سابه

موخه: پړاو په پړاو د کدو او گازرې له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

## پوښتنه


۱. په دې مخ کې څه شی وینئ او له هغو څخه څه گټه اخیستل کیږي؟






## فعالیتونه

**زده‌کوونکي دې په ډلو کې د یوه بل په مرسته د کدو او گازرې شکلونه انځور کړي.**



(۱)



(۲)



(۱)

## کورنۍ دنده

**په خپلو کتابچو کې د کدو او گازرې انځور و کاږئ.**

# میوې


موخه: د پنسل په مرسته د ساده شکلونو (ناک او مڼې) له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.



## پوښتنې


۱- کومې میوې مو خوښیږي؟

۲- د لاندې شکلو نومونه واخلئ؟



## فعالیتونه

**زده کوونکي دې په انفرادي ډول په خپلو کتابچو کې مڼه او ناک انځور کړي.**



(۲)

## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې یوه مڼه او یو ناک رسم کړي.

# د مېوو رنګول


موخه: د پنسل او رنګونو په مرسته د ځینو مېوو له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.



## پوښتنې

۱. د لاندنیو شکلو نو نومونه پېژنئ؟


۲. آیا پوهېږئ چې په لاندینیو شکلونو کې کوم رنګونه کارول شوي دي؟



(۱)

## فعالیتونه

زده کوونکي دې پورتني انځورونه رسم کړي، بیا دې د هغوی په رنګونو فکر وکړي او په ډېر غور او دقت دې رنګه کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

له پورته شکلونو څخه یو، په کور کې رسم او رنګ کړئ.


# د هیلۍ انځور

موخه: د هیلۍ له انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

پوښتنې

۱- په لاندې شکل کې څه شی وینئ؟


۲- ایا ویلی شئ چې هیلۍ چېرته ژوند کوي؟




(۱)

## فعالیتونه

پورته شکل ته په ځیرسره وګورئ او بیا د هغې له مخې په ساده خطونو د هیلۍ انځور وکاږي.





## کورنۍ دنده


یوه هیلۍ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.

# د هیلۍ رنګه کول

موخه: د هیلۍ د شکل له رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کول.

## پوښتنه


١. څه فکر کوئ چې هیلۍ څه ډول رنګونه لري؟




١

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې هیلۍ رسم او رنګه کړي او بیا دې هغه بیاتي او د رسم په کتابچه کې دې ونښلوي.





۲

## کورنۍ دنده

ټولو پړاو ونو ته په پاملرنې سره یوه هیلۍ رسم او رنګه کړئ.


# کبان

موخه: د کبانو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.



**پوښتنه**


۱. آیا تاسو کبان لیدلي دي؟



(۱)

## فعالیتونه

زده کوونکي دې لاندیني شکلونه په خپلو کتابچو کې رسم کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کب شکل انځور او رنګ کړي.


# د کب رنگه کول

**موخه: د کب له رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.**

**پوښتنې**

١- تراوسه مو څو رنګه کبان لیدلي دي؟


٢- آیا تاسو کله کب انځور کړی دی؟



(١)

## فعالیتونه

زده کوونکي دې د رسم پړاوونو ته په ځیر وګوري او بیا دې انځور کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې یو شکلی کب انځور او د خپل ښوونکي له نظره تیر کړي.


# پیشو

موخه: پړاو په پړاو په مرحله يې ډول د پشکې له انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

 پوښتنې

۱- آیا تاسو کله پیشو انځور کړی ده؟


۲-تاسو له کوم پړاو څخه د پیشو انځور پیلوئ؟




(۱)

## فعالیتونه

**لاندیني شکلونه سره یو ځای کړئ، د پیشو شکل تکمیل او رنګه کړئ.**



(۲)



### کورنۍ دنده

**په خپلو کتابچو کې یوه پیشو انځور او ټولګي ته یې راوړئ.**

# اصلي رنګونه


موخه: د اصلي رنګونو له یوځای کېدو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.



## پوښتنې


۱. په لاندینیو شکلونو کې کوم رنګونه وینئ؟

۲. د زیړ او سور رنګ له یوځای کېدو څخه کوم رنګ لاسته راځي؟



## فعالیتونه

په لاندینیو شکلونو کې کوم رنګونه اصلي دي، نومونه يې واخلئ.




## کورنۍ دنده

د کور په لوښو کې يو اصلي رنګ په ګوته کړئ او په ټولګي کې يې نوم واخلئ.

# لاسي کار


**موخه: د چاپېريال له ساده توکوڅخه د يو لاسي کار له جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.**



## پوښتنې

۱. کله مو لاسي کار جوړ کړی دی؟


۲. تاسو له کومو موادو څخه لاسي کار جوړولی شئ؟



(۱)

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې مڼه او ناک په ټولګي کې انځور او رنګه کړي او بیا دې هغه د یو بل په مرسته بیاتي کړي او په یوه سپین کاغذ دې ونښلوي او د خپل ښوونکي له نظره دې تیر کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

پورتني فعالیت یو ځل بیا تکرار کړئ.

# کاپي کول


**موخه**: د پاڼې له کاپي کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.




## پوښتنې

۱. کله مو کوم شکل کاپي کړی دی؟


۲. آیا کولی شئ چې یوه پاڼه کاپي یا ټاپه کړئ؟





## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې د ونې یوه پاڼه د کاغذ لاندې کېږدي او د پنسل په واسطه دې هغه د لاندې شکل په شان کاپي کړي.



(۲)

## کورنۍ دنده

په یوه سپین کاغذ کې د ونې یوه پاڼه کاپي کړئ.

# د پاکټ لاسي کار


**موخه: د پاکټ له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.**




## پوښتنې

**۱- کله مو له کاغذ څخه پاکټ جوړ کړی دی؟**


**۲- له پاکټ څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟**



۴




۵




۶

## فعالیتونه


زده کوونکي دې یوازې د لاندې شکل په شان پاکټ جوړ کړي.



۲



۱



۳

## کورنۍ دنده


زده‌کوونکي دې په کور کې له کاغذ څخه یو پاکټ جوړ کړي او ټولګي ته دې راوړي.

# د کښتۍ لاسي کار

موخه: له کاغذ څخه د کښتۍ له جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنه**

۱- کله مو له کاغذ څخه کښتۍ جوړه کړې ده؟



## فعالیتونه


زده کوونکي دې د لاندیني شکل په شان له کاغذ څخه یوه کښتۍ جوړه کړي.



۱



۲



۳

## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې په کور کې یوه کښتۍ جوړه او هغه دې خپل ورو کي ورور یا خور ته ډالۍ کړي.


# له کاغذ څخه د گل جوړول

موخه: له سپين او يا رنگه کاغذ څخه د گل له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتيا.


## پوښتنې

۱. کله مو له کاغذ څخه گل جوړ کړی دی؟

۲. تاسو کله په لاس جوړ شوي کاغذي گلان ليدلي دي؟




(۵)




## فعالیتونه


زده کوونکي دې له بېلګې سره سم یو مربع شکله کاغذ قات کړي او د پړاوونو په پام کې نیولو سره دې کاغذ بیاتي او لاس ته راغلی ګل دې رنګه کړي.




(۱)



(۲)



(۳)



(٤)

## کورنۍ دنده


له یوه کاغذ څخه یو ګل جوړ کړئ او ټولګي ته یې راوړئ.

# له کاغذ څخه د کوترې جوړولو لاسي کار


موخه: له کاغذ څخه د کوترې له جوړولو سره د زده‌کوونکو آشنا کول.

پوښتنې


۱- کله مو له کاغذ څخه کوتره جوړه کړې ده؟



۴




۶




۵

## فعالیتونه


زده‌کوونکي دې له پورته شکل سره سم د ټکو له ځایه خپل کاغذ قات او پړاوونه دې په پام کې ونیسي او یوه کوتره دې جوړه کړي.



۱



۲



۳

## کورنۍ دنده

له کاغذ څخه کوتره جوړه او هغه په خپله خوښه رنګه کړئ.

# د چرګې رسمول

موخه: د بېلابېلو شکلونو له یوځای کېدو څخه د یوې چرګې له جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کول.



## پوښتنې

۱- په لاندې شکلونو کې څه شی وینئ؟


۲- آیا له لاندنیو توکو څخه یو لاسي کار جوړ ولی شئ؟



(۱)

## فعالیتونه

زده‌کوونکی دې پورته شکلونه بېل بېل انځور او رنګه کړي او بیا دې هغه  بېل بېل بیاتي کړي او  په یوه سپین کاغذ دې داسې ونښلوي چې یوه چرګه ترې جوړه شي.



(۲)

## کورنۍ دنده

د چاپېریال له موادو څخه په ابتکاري ډول یوه چرګه جوړه کړئ او ټولګي ته یې راوړئ.


# د ګوتو له نښانو څخه د شکلونو جوړول

موخه: د ګوتو له نښانونو څخه د شکلونو له جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کول.




پوښتنه

١- د ګوتو له نښانونو څخه شکلونه جوړولی شئ؟



## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې د ګوتو له نښانونو څخه په ګټه اخیستنه بېلابېل شکلونه رسم کړي.



## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د ګوتو له نښانونو څخه په ګټه اخیستنه یو شکل رسم کړي.

**دویمه برخه:**

دریم لوست

(۷) مخ **د رسامۍ د هنر د تدریس لارښود**

لومړی درسي ساعت **(د تدریس وخت دوه درسي ساعته)**

| **د لوست سرلیک** | **د رسامۍ د هنر وسایل** | |
|---|---|---|
| **عمومي موخې** | د رسامۍ د هنر د وسایلو پېژندنه او له هغه سمه ګټه اخستل. | |
| **د زده کړې موخې**<br>**(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | له زده کوونکو هیله کېږي چې د هر لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي<br>• د رسامۍ د هنر له وسایلو سره به بلدتیا پیدا کړي.<br>• د رسامۍ هنر له وسایلو به سمه استفاده وکړای شي.<br>• د رسامۍ هنر له وسایلو سره به مینه پیدا کړي او له هغې په سمه استفاده وکړای شي. | |
| **د تدریس لارې** | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| **د تدریس اړین توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کرکي قلم، تباشیر، مشوانې او خط کش. | |
| **د ارزونو لارې** | په عملي توګه مشاهده کول. | |
| **لومړني یا مقدماتي فعالیتونه** | له سلام او لنډې احوال پوښتنې وروسته، د حاضرۍ اخیستل، د ټولګي تنظیم او د تېر درس یادونه. | وخت ۵دقیقې |
| | **د انګیزې رامنځ ته کول**<br>**پوښتنه:**<br>-تاسو د رسامۍ د وسایلو نومونه اخیستلای شئ؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
|---|---|
| -د رسامی د هنر وسایل پر تختې رسم کړئ او د هغې په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>-د رسامی د هنر وسایل او د هغې د استعمال د لارو چارو په اړه معلومات ورکړئ.<br>-د رسامی د وسایلو د نومونو په اړوند هغوی ته معلومات ورکړئ او د هغوی پوښتنو ته ځواب ورکړئ.<br>- د دوی کارونه واروئ. | ۳۵ دقیقه |

**ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دي او یانه، د څو پوښتنو په کولو هغوی ارزوي.

**کورنۍ دنده**: د رسامی هنر د څو وسایلو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**اضافي معلومات**

ماشومان په لومړۍ دوره کې له (۱- ۳) ټولګي پورې د دوی له عمرسره سم مینه لري چې د رسمولو له لارې رنګول او له ساده سیمه ییزو موادو څخه، لکه: ګل، لرګي او بېلابېلو کاغذونو څخه، هغه څه چې په ذهن کې لري، جوړوي.

د لومړۍ دورې ښوونکي ته څرګنده ده، چې زده کوونکي له ۱۵-۳۰) دقیقو پورې یو کار به ډېره مینه ترسره کوي، خو له دې څخه زیات وخت کې یې ورو ورو مینه کمیږي، په دې صورت د کار دوام به ګټه ولري، خو ځینې وختونه زیانو نه هم لري.

ماشومان په (۷- ۹) کلنۍ کې ډېر وخت له ځان سره مصروف وي، په دې معنا چې ټول شیان له خپلې خوښې سره سم غواړي، له دې امله هغه کار چې ورته په ګوته کیږي، که چیرې د ماشوم او د ماشوم کورنۍ له ژوند او چاپېریال سره سمون ولري، په دې صورت ماشوم په پوره مینې او علاقې سره هغه ترسره کوي او په چټکی سره زده کړه ترسره کیږي.

(۱۱) مخ

## د رسامی هنر د تدریس لارښود

لومړی درسي ساعت

### (د تدریس وخت دوه درسي ساعته)

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرليک** | **منظم خطونه** | |
| **عمومي موخې** | زده کوونکي به منظم خط او د هغې له رسمولو سره اشنا شي. | |
| **د زده کړې موخې**<br>(پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | له زده کوونکو هيله کېږي چې د هر لوست په پای کې لاندې موخوته ورسيږي<br>• زده کوونکي به له رسامی او رنګولو له طريقو سره آشنايي پيدا کړي.<br>• زده کوونکي به منظم خطونه وپېژني.<br>• زده کوونکي د منظمو خطونو له رسمولو سره مينه پيداکړي. | |
| **د تدريس لارې** | ډله ييز او ځانګړي فعاليتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| **د تدريس اړين توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کرکي قلم، تباشير، مشواني او خط کش. | |
| **د ارزونو لارې** | په عملي توګه مشاهده کول. | |
| **لومړني يا مقدماتي فعاليتونه** | سلام اچول، پوښتنه د حاضرۍ اخېستل، د ټولګي تنظيم، د کورنۍ دندې ليدنه، له تېر لوست يادونه او له نوي لوست سره يې اړيکې. | وخت ۵دقيقې |
| | **د انګيزې رامنځ ته کول**<br>**پوښتنه:**<br>-کله مو منظم خطونه رسم کړيدی؟ | ۵ دقيقې |

| وخت | د ښوونکي فعالیتونه |
| --- | --- |
| ۳۵ دقیقه | -منظم خطونه دې پرتختې رسم او د هغې د رسمولو لارې دې په عملي ډول زده کوونکو ته ور زده کړئ.<br>- د منظمو خطونو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ، ترڅو هغوی په خپلو کتابچو کې یو ازاد خط رسم کړئ.<br>- د هغوی کارونه اصلاح کړئ.<br>- د دوی پوښتنو ته ځواب ورکړئ او مشکلات یې حل کړئ. |

**ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دی او یانه، د څو پوښتنو په کولو هغوی ارزوي.

**کورنۍ دنده**:په خپلو کتابچو کې له منظمو خطونو څخه یو رسم کړئ او ټولګي ته یې راوړي.

**اضافي معلومات**

۱-ماشومان د منظمو خطونو رسمولو او لاسي کارونو جوړولو ته وهڅوئ، هڅه وکړئ چې په هغوی کې ځینې مفکورې تحریک کړئ چې پرمختګ وکړي.

د ځینو فابریکو او سیمو ته. ۲- د سیر علمي، د کتابتونو د لیدلو او د ځینو کیسو په ویلو هغوی وهڅوئ او انګیزه یې راوپاروئ.

۳-کله چې ماشومان تیار شول، هغوی پر بر دئ، چې هر څومره ژر خپل هنري کارونه پیل کړي.

٤-په نوښتګرو کارو کې د نورو مضمونو له موضوعګانو څخه ګټه واخلئ.

٥-د نوښت او د مفکورو د پرمختیا او پراختیا لپاره په ټولګي له خبرو اترو کار واخلئ.

٦- هغوی بوخت وساتئ او هغو خنډونه چې د دوی د کار په وړاندي پراته وي، له مخې لرې کړئ. ۷-له نیمګړتیاوو او محدودیتو څخه یې باید خبرتیا ولرئ، داسې شرایط ورته برابر کړئ، چې د دوی د پرمختیا سبب شي.

(۱۳) مخ

**د رسامی هنر د تدریس لارښود**

لومړی درسی ساعت

**(د تدریس وخت دوه درسي ساعته)**

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرلیک** | **ساده شکلونه** | |
| **عمومي موخې** | د پنسل په واسطه د ساده شکلونو رسمول. | |
| **د زده کړې موخې (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | له زده کوونکو هیله کېږي چې د هر لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي<br>• زده کوونکي به د رسامی او رنګولو له طریقو سره اشنایي پیدا کړي.<br>• د ساده شکلونو له رسمولو سره به اشنایي پیدا کړي.<br>• زده کوونکي به ساده شکلونه رسم کړای شي.<br>• زده کوونکي به د ساده شکلونو له رسمولو سره مینه پیداکړي. | |
| **د تدریس لارې** | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه. | |
| **د تدریس اړین توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کرکي قلم، تباشیر، مشواني او خط کش. | |
| **د ارزونو لارې** | په عملي توګه مشاهده کول. | |
| **لومړني یا مقدماتي فعالیتونه** | سلام اچول،پوښتنه د حاضرۍ اخېستل، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې لیدنه، له تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې اړیکې. | وخت ۵دقیقې |
| | **د انګیزې رامنځ ته کول**<br>**پوښتنه**:<br>-کله مو ساده شکلونه رسم کړیدي؟ | ۵ دقیقې |

| وخت | د ښوونکي فعالیتونه |
|---|---|
| ۳۵ دقیقه | -د ساده شکلونو بهرني خطونه پر تختې رسم او د هغې د رسمولو لارې په عملي ډول زده کوونکو ته ور زده کړئ.<br>- د ساده خطونو، بهرنیو خطونو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ، هغوی ته لارښوونه وکړئ، ترڅو یې په کتابچو کې رسم کړي.<br>-د زده کوونکو پوښتنوته ځواب ورکړئ او ستونزې یې هوارې کړئ.<br>-کارونه یې اصلاح کړئ. |
| | **ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دی او یانه، د څو پوښتنو په کولو هغوی ارزوي. |
| | **کورنۍ دنده**: یو ساده شکل دې په خپلو کتابچو کې رسم او ټولګي ته راوړي. |
| | **اضافي معلومات**<br>۸- هڅه وکړي چې له بریالیتوب څخه ډاډ ورکړئ، هغه کارونه چې ترسره کوی یې هغوی وهڅوئ، ترڅو چې نور هم ښه کارونه ترسره کړي.<br>۹-هغوی ته پوره وخت ورکړئ، ترڅو خپل کارونه بشپړ کړي.<br>۱۰- هڅه وکړئ چې د رسمولو ساده او اسانه لارې زده کوونکوته ورزده کړئ.<br>۱۱- مهربان، هڅوونکي اوسئ.<br>۱۲- ماشومان وهڅوئ چې خپل خیالونه او مفکورې په رسامی کې څرګندې کړي.<br>۱۳- ښکلي او ښه نوښت یې وسایل شي، ترڅو خپله پرځان باوري شي.<br>۱٤- د پوښتنو په کولو د دوی د نوښتونو د څرګندولو لپاره ورسره مرسته وکړئ.<br>۱۵- د ماشومانو په کار کې لاس وهنه مه کوئ. |

**ښاغلی ښوونکي**: په دې کتاب کې د تدریس د لارښود له بیا لیکونو مو ډ ده کړیده. تاسې کولی شي چې له دې لارښود څخه د ټولو لوستو په تدریس کې ګټه واخلئ.